# الروم

**مکی سورة دی ۶۰ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

الٓمٓ ١

**الف- لام- میم( په اصل معنی يې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی).**

غُلِبَتِ ٱلرُّومُ ٢

**( عیسوی مذهبه) رومیانو،(د پارسی مجوسیانو په مقابل کې) ماتې وخوړه.**

فِيٓ أَدۡنَى ٱلۡأَرۡضِ وَهُم مِّنۢ بَعۡدِ غَلَبِهِمۡ سَيَغۡلِبُونَ ٣

**( مکې معظمې ته) په نږدې متصله ځمکه( د شام او حجاز په سرحدی سیمه) کې، خو هغوی( رومیان) به له دې ماتې وروسته ډیر زر بیرته بریا ترلاسه کړی.**

فِي بِضۡعِ سِنِينَۗ لِلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ مِن قَبۡلُ وَمِنۢ بَعۡدُۚ وَيَوۡمَئِذٖ
يَفۡرَحُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٤

**(البته) په څو کالو( له دریو نه تر نهو کالو په موده کې). لومړی( په روم باندې د پارس بری )او بیا (بیرته په پارس باندې د رومیانو برلاسی او فتح او ټوله نظامی اوضاع له یو مخ نه په بل مخ اوښتل) یوازې د الله تعالی په کامل قدرت او نافذالعمل فرمان کې دی، او په دغه ورځ( په پارس باندې د رومیانو د غلبې او برلاسی په ورځ) به مؤمنان خوښ او خوشاله شی.**

بِنَصۡرِ ٱللَّهِۚ يَنصُرُ مَن يَشَآءُۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ٥

**د الله تعالی په نصرت او مرسته. بیشکه( الله تعالی )چې چاته وغواړی مرسته ورکوی، او( د خپلو احکامو او اوامرو په انفاذ کې) یوازینی برلاسی او رحم کوونکی ذات دی.**

وَعۡدَ ٱللَّهِۖ لَا يُخۡلِفُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٦

**دا د الله تعالی وعده ده او بیشکه چې الله تعالی خپله وعده نه ماتوی، خو زیاتره خلک( د الهی وعدې په قاطعیت او په هغو حکمتونو، چې د یوې دلې په ځپلو او د بلې په برلاسی کې نغښتی دی) نه پوهیږی.**

يَعْلَمُونَ ظَـٰهِرًا مِّنَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَهُمْ عَنِ ٱلْـَٔاخِرَةِ هُمْ غَـٰفِلُونَ ﴿٧﴾

هغوی یوازې د دنیا د ژوند ظاهری( محسوسه) بڼه وینی خو د آخرت د ابدی او له نعمتونو ډک ژونده بې خبره دی.

أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِم ۗ مَّا خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ
إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ
لَكَـٰفِرُونَ ﴿٨﴾

آیا پخپل ګریوان کې سر نه ټیټوی او فکر نه کوی چې الله تعالی آسمانونه او ځمکه او د هغو ترمنځ ټول موجودات او مخلوقات په حقه پیدا کړی، چې تر یوې ټاکلې مودې به دوام کوی، خو زیاتره خلک د خپل رب له (اخروی) ملاقات( او د اعمالو له محاسبې نه) منکر دی.

أَوَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ
كَانُوٓا۟ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَأَثَارُوا۟ ٱلْأَرْضَ وَعَمَرُوهَآ أَكْثَرَ مِمَّا
عَمَرُوهَا وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ ۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ
وَلَـٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٩﴾

آیا دوی په ځمکه کې نه ګرځی تر څو د پخوانیو خلکو په حال خبر شی، هغوی له دوی نه ډېر پیاوړی او د قوت لرونکی وو، ځمکه به یې( د بیلا بیلو عمرانی چارو لپاره) په بل مخ اړوله او له دوی نه لا وړاندې یې آباده کړې وه. او پیغمبران ورته له څرګندو دلایلو سره راغلل( خو کله چې یې پیغمبران دروغ وګڼل، نو دوی هم تباه شول) او الله تعالی په هغوی زیاتی نه دی کړی بلکه دوی پخپله (په کفر او سرکشۍ سره) په ځانونو ظلم کاوه.

ثُمَّ كَانَ عَـٰقِبَةَ ٱلَّذِينَ أَسَـٰٓـُٔوا۟ ٱلسُّوٓأَىٰٓ أَن كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ وَكَانُوا۟
بِهَا يَسْتَهْزِءُونَ ﴿١٠﴾

بیا تر ټولو بد عاقبت د هغو کسانو په برخه شو چې ډیرو ناوړه اعمالو ته یې لاس اچولی و، د الله تعالی آیتونه یې دروغ ګڼل او پرله پسې یې ورباندې ټوکې او ملنډې وهلې.

ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ١١

الله تعالی مخلوقات پیدا کوی، بیا یې( له مرګه وروسته) بیرته راژوندی کوی او تاسو ټول به( د حساب کتاب لپاره) د هغه حضور ته ورګرځی.

وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُبۡلِسُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ١٢

او د قیامت په ورځ به ګناهکاران( په غم او هیبت کې ډوب وی او د الله له رحمت نه به) مایوسه او نا امیده وی( ځکه چې هیڅ عذر او پلمې به یې نه منل کیږی).

وَلَمۡ يَكُن لَّهُم مِّن شُرَكَآئِهِمۡ شُفَعَٰٓؤُاْ وَكَانُواْ بِشُرَكَآئِهِمۡ

كَٰفِرِينَ ١٣

او هیڅ یو باطل خدای به یې( چې دوی به ورته په پټو سترګو په سجدو پراته وو) شفاعت او سفارش ونشی کولی، او دوی به( په کامله پوهه) له خپلو باطلو خدایانو څخه انکار او بیزاری اعلان کړی.

وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوۡمَئِذٖ يَتَفَرَّقُونَ ١٤

او د قیامت په ورځ به ټول ( ښه او بد ) سره تفکیک او جلا جلا شی.

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَهُمۡ فِي رَوۡضَةٖ

يُحۡبَرُونَ ١٥

نو هغه کسان به چې ایمان یې راوړی او نیک عمله هم دی، په روضه جنت کې خوښی او خوشالی کوی.

وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآيِٕ ٱلۡأٓخِرَةِ فَأُوْلَٰٓئِكَ فِي

ٱلۡعَذَابِ مُحۡضَرُونَ ١٦

او چا چه د کفر لاره غوره کړې او زمونږ( د قرآن) آیتونه او د آخرت ملاقات یې دروغ ګڼلی، عذاب ته به راکښل شی.

فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمۡسُونَ وَحِينَ تُصۡبِحُونَ ١٧

نو( د اخروی او ابدی نیکمرغی او جنت لپاره)ماښام،( او ماسختن) او سهار د الله تعالی تسبیح او ثنا ووایی(او لمونځونه اداء کړی).

وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَعَشِيّٗا وَحِينَ تُظۡهِرُونَ ١٨

او په آسمانونو او ځمکه کې ټولې ستاینې د الله تعالی لپاره ځانګړې دی، نو د مازیګر او ماسپښین مهال( هم د الله تعالی تسبیح ووایی او لمونځونه وکړی).

يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ وَيُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ
مَوۡتِهَاۚ وَكَذَٰلِكَ تُخۡرَجُونَ ١٩

( الله تعالی هغه ذات دی چې) ژوندی له مړو( انسان له نطفې،ښه له بد یا مسلمان له کافر نه ) زیږوی او مړی له ژوندی( نطفه له انسان نه، بد له ښه، یا کافر له مسلمان نه) . او ځمکه له مرګ( وچیدو) نه وروسته ژوندۍ کوی، او په همدې ډول به تاسو هم له ( قبرونو څخه) راوباسی.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٞ
تَنتَشِرُونَ ٢٠

د( الله تعالی د ربوبیت) یوه لویه نښه دا ده چې تاسو یې له( بې روحه) خاورې نه راپیدا کړی او اوس د بشری پرګنو په حیث د ځمکې په لر او بر کې خواره واره یاست.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا لِّتَسۡكُنُوٓاْ إِلَيۡهَا
وَجَعَلَ بَيۡنَكُم مَّوَدَّةٗ وَرَحۡمَةًۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ
يَتَفَكَّرُونَ ٢١

او( د هغه د قدرت او ربوبیت) یوه نښه دا ده چې تاسو ته یې همدا ستاسو له جنس نه جوړه( د ژوند ملګری) پیدا کړې چې تاسو یې په څنګ کې آرام او هوسا شی، او ستاسو تر منځ یې دوستی او مهربانی ټینګه کړې، بیشکه چې په دې کار کې د تفکر د خاوندانو لپاره نښې پرتې دی.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ خَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفُ أَلۡسِنَتِكُمۡ وَأَلۡوَٰنِكُمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّلۡعَٰلِمِينَ ٢٢

او( د الله تعالى د قدرت او ربوبيت) يوه نښه، د آسمانونو او ځمکې پيدايښت او ستاسو د ژبو او رنګونو اختلاف او سره جلاوالى دى.بيشکه چې په دې(واقعيتونو) کې د پوهانو لپاره نښې پرتې دى.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ مَنَامُكُم بِٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱبۡتِغَآؤُكُم مِّن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ ٢٣

او د هغه( د قدرت او ربوبيت ) له نښو څخه يوه هم په شپه کې ستاسو خوب او آرام، او د ورځې د (الله تعالى) د فضل او روزۍ لټول او هلې ځلې دى. بيشکه چې په دې چارو کې د اوريدونکو خلکو لپاره نښې پرتې دى.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ يُرِيكُمُ ٱلۡبَرۡقَ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَيُحۡيِۦ بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ٢٤

او د (الله تعالى د قدرت او ربوبيت) يوه نښه دا ده چې برېښنا درته د ( تندر) د ويرې او( باران) ته د تمې او اميد د وسيلې په حيث ځرګندوى او له آسمانه اوبه نازلوى چې ځمکه وروسته له مرګ( وچوالى) څخه راژوندى شى، بيشکه چې( د خلقت په دې عجايباتو کې) د عقل او پوهې لپاره نښې موجود دى.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ ٱلسَّمَآءُ وَٱلۡأَرۡضُ بِأَمۡرِهِۦۚ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمۡ دَعۡوَةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ إِذَآ أَنتُمۡ تَخۡرُجُونَ ٢٥

او د الله تعالى( د قدرت او ربوبيت) يوه نښه دا ده چې آسمان او ځمکه يې په حکم او فرمان ټينګ ولاړ دى، او کله چې له ځمکې نه تاسو راوغواړى، بې له درنګه به( له قبرونو څخه) راووزئ.

وَلَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ كُلّٞ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ٢٦

او د آسمانونو او ځمکې ټول مخلوقات د هغه د مالکيت او فرمان لاندې دى.

وَهُوَ ٱلَّذِى يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهۡوَنُ عَلَيۡهِۚ وَلَهُ ٱلۡمَثَلُ
ٱلۡأَعۡلَىٰ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٢٧

او الله هغه ذات دی چې پیدایښت یې ایجاد کړی، او( په قیامت کې یې) بیا هم تکراروی، او دا کار ورته لا ډیر آسان دی، او د هغه صفت په آسمانونو او ځمکه کې تر ټولو لوړ دی، او (الله تعالی په ټولو چارو او اقداماتو برلاسی او د حکمت څښتن دی.

ضَرَبَ لَكُم مَّثَلًا مِّنۡ أَنفُسِكُمۡۖ هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُم
مِّن شُرَكَآءَ فِى مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ فَأَنتُمۡ فِيهِ سَوَآءٌ تَخَافُونَهُمۡ
كَخِيفَتِكُمۡ أَنفُسَكُمۡۚ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأَيَٰتِ لِقَوۡمٖ
يَعۡقِلُونَ ٢٨

( الله تعالی) ستاسو له ځانونو نه تاسو ته مثال بیانوی، آیا ستاسو په غلامانو کې چې ستاسو په واک کې دی، کوم یو داسې شته چې زمونږ په درکړی شوی مال او شتمنئ کې، ستاسو سره مساوی او برابره برخه ولری او تاسو له هغوی نه داسې وویرېږئ لکه چې له خپلو رقیبانو او سیالانو څخه ویرېږئ؟( بې له شکه چې د آزاد او غلام او مالک او مملوک ترمنځ دغسې اشتراک نشته نو څنګه امکان لری چې د الله تعالی مخلوق دې په ربوبیت، خالقیت او مالکیت کې له الله تعالی سره شریک شی؟) په دې توګه مونږ خپل آیتونه عاقلانو او پوهانو ته بیانوو.

بَلِ ٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ أَهۡوَآءَهُم بِغَيۡرِ عِلۡمٖۖ فَمَن يَهۡدِى مَنۡ
أَضَلَّ ٱللَّهُۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٢٩

( د مشرکانو اعتقاد او عمل په علمی او منطقی بنسټ نه دی ولاړ) بلکه دغه ظالمان په جهالت او ناپوهئ سره پخپلو نفسی خواهشاتو پسې ځغلی، او هغه کسان چې الله تعالی( د نفسی خواهشاتو د پیروئ له امله) بې لارې کړی وی، څوک به یې سمې لارې ته راولی؟بلکه هغوی به هیڅ داسې مرستندوی و نه مومی چې( دوی له ګمراهئ او عذاب نه وژغوری).

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾

نو( ای پیغمبره!) په ثبات او اخلاص سره پخپل دین( اسلام) تینګ ودرېږه او په هغه الهی فطرت مستحکم او پابند واوسه چې الله تعالی پرې ټول خلک پیدا کړی دی. د الله تعالی په خلقت کې هیڅ بدلون او تغیر نه راځی. همدا حق او مستقیم دین دی خو زیاتره خلک( په دغه حقیقت) نه پوهیږی.

۞ مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَٱتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٣١﴾

د الله تعالی لوری ته په پوره اخلاص متوجه اوسی، او له عذابه يې ووېرېږئ، لمونځونه اداء کړئ او د مشرکانو په کتار کې مه درېږی.

مِنَ ٱلَّذِينَ فَرَّقُوا۟ دِينَهُمْ وَكَانُوا۟ شِيَعًا ۖ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٣٢﴾

هغه مشرکان چې خپل( اصلی او فطری) دین يې( پرې ایښی او په یهودی، عیسوی او مجوسی ) ډلو تپلو ویشل شوی، هره ډله( له دینی احکامو څخه پخپلو اخستل شویو تعبیراتو) خوشاله ده( او فکر کوی چې بس همدوی په حقه دی).

وَإِذَا مَسَّ ٱلنَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا۟ رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَآ أَذَاقَهُم مِّنْهُ رَحْمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾

کله چه( له لوی نه لوی کبرجن او سرکښ) انسان ته هم کوم غم او مصیبت ورسی، په اخلاص او پاک نیت سره خپل رب ته رجوع او دعاګانې کوی، خو کله چې مصیبت ورڅخه لیرې شی او الله تعالی وربانديې خپل رحمت( نعمت، شتمنی، اولاد او امنیت) ولوروی، ناڅاپه پکې یو شمیر، له خپل رب سره شریکان پیدا کړی( او دغه نعمتونه د خپلو باطلو خدایانو لورینه وګڼی).

لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡۚ فَتَمَتَّعُواْ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٣٤

ترڅو زمونږ د نعمتونو ناشکری وکړی.( ای مشرکانو! په دې ژر تیریدونکو لږ شمیر نعمتونو) ښې مزې چرچې وکړی، خو ژر به پوه شی( چې د ناشکرو او ناسپاسو خلکو انجام او سرنوشت څه دی؟).

أَمۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٗا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُواْ بِهِۦ يُشۡرِكُونَ ٣٥

آیا مونږ د دوی د باطلو خدایانو د حقانیت لپاره کوم ښکاره دلیل نازل کړی چې د دوی د شرک په حقانیت ګواهی ورکوی( بلکه هیڅکله مو داسې کوم حکم نه دی نازل کړی).

وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةٗ فَرِحُواْ بِهَاۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ إِذَا هُمۡ يَقۡنَطُونَ ٣٦

او کله چې مونږ خپل رحمتونه په خلکو ولوروو، نو دوی له خوشالۍ نه په کالیو کې نه ځائیږی، خو کله چې ورته د خپلو ګناهونو له امله کوم عذاب او صدمه ورسی، نو بې له ځنده( د الله تعالی له رحمته) مایوس او نا امیده شی.

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٣٧

آیا په دې نه پوهیږی چې الله تعالی هرچاته چې وغواړی، روزی( او د ژوند آسانتیاوې) یې پراخوی، او هر چاته چې اراده وکړی، روزی ( او تسهیلات) ورباندې محدودوی، بیشکه چې په دې اقدام کې د ایمان راوړونکو لپاره ښه درس پروت دی( چې باید په رنځ او مصیبت کې صبر او تحمل ولری او په راحت او هوسایی کې د خپل رب شکر اداء کړی).

فَـَٔاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٣٨

نو( په هغه روزۍ کې چې مونږ تاسو ته درکړې) خپلو خپلوانو، مسکینانو او مساپرو ته حق ورکړئ. دغه انفاق د هغو کسانو لپاره ډیر غوره دی چې د الله تعالی رضا غواړی، ربښتیا هم چې دوی بریالی او( له عذابه) نجات موندونکی دی.

وَمَآ ءَاتَيۡتُم مِّن رِّبٗا لِّيَرۡبُوَاْ فِيٓ أَمۡوَٰلِ ٱلنَّاسِ فَلَا يَرۡبُواْ عِندَ ٱللَّهِۖ وَمَآ
ءَاتَيۡتُم مِّن زَكَوٰةٖ تُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُضۡعِفُونَ ٣٩

او کومه شتمنۍ چې تاسو( د دې لپاره) په سود ورکوئ چې په خلکو کې ستاسو مال زیات شی، د الله تعالی په نزد پکې زیاتوالی نه راځی، خو هغه چې د الله تعالی د رضا لپاره زکات ورکوئ( د شتمنۍ د زیاتوالی ډیره ښه لار ده) نو همدا زکات ورکوونکی دی چې مال او ثواب یې څو برابره زیاتیږی.

ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ ثُمَّ رَزَقَكُمۡ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيكُمۡۖ هَلۡ
مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَفۡعَلُ مِن ذَٰلِكُم مِّن شَيۡءٖۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا
يُشۡرِكُونَ ٤٠

الله تعالی هغه ذات دی چې تاسو یې پیدا کړی، بیا یې درته روزی درکړه، بیا مو مړه کوی، او بیا مو بیرته را ژوندی کوی. آیا ستاسو په ( خودساخته)معبودانو کې داسې کوم یو شته چې دغه چارې سرته ورسولی شی. نو پاک او لوړ ذات دی (الله تعالی) له دې چې شریکان ورسره وټاکی.

ظَهَرَ ٱلۡفَسَادُ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ بِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِي ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم
بَعۡضَ ٱلَّذِي عَمِلُواْ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ٤١

د خلکو د ناوړو اعمالو( کفر او شرک، ظلمونو، له الهی حدودو د تیریو او اخلاقی فساد) له امله په وچه او بحر کې فساد او تباهی(لکه قحط او وچکالی،ناحقه قتلونه، زیات مرګونه او بې دریغه زلزلې او سیلابونه) رامنځته شول، ترڅو( الله تعالی دوی ته )د دوی د ځینو اعمالو د سزا خوند وروڅکی ،کیدی شی چې دوی (له ګناه او سرکشۍ نه) راوګرځی.

قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلُۚ كَانَ
أَكۡثَرُهُم مُّشۡرِكِينَ ٤٢

ووایه په ځمکه کې وګرځئ او په دقت سره وګورئ چې د پخوانیو( مفسدینو او بدعمله خلکو) انجام او عاقبت څنګه و؟ زیاتره یې مشرکان وو( او د شرک له امله تباه شول).

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ ٱلْقَيِّمِ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ ۖ
يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴿٤٣﴾

( نو ای مخاطبه! د شرک د بطلان په نظر کي نيولو سره) په پوره اخلاص او پاک نيت سره، دي برحق دين اسلام ته مخ وګرځوه، وړاندې له هغې ورځې چې د الله تعالی له حضوره يې ځنډيدل نشته، هغه ورځ چې ټول خلک به ډله ډله او ټولی ټولی شی،(مؤمنان به جنت، او کافران به دوزخ ته واستول شی« فريق فی الجنة و فريق فی السعير»سورة الشوری).

مَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُۥ ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِأَنفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ ﴿٤٤﴾

څوک چې کافر شی د کفر سزا يې خپله ده او څوک چې نيک عمله او صالح وی د ځان لپاره( جنت ته د رسيدو او هلته د تلپاتې مجلل هستوګنځی د لاسته راوړلو) لار برابروی.

لِيَجْزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ
ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٤٥﴾

ترڅو الله تعالی نيک عملو مؤمنانو ته پخپل فضل ( د يوې نيکی په مقابل کې له لسو تر اوو سوو چنده زيات) اجر ورکړی( او کافران له خپل رحمت نه بې برخې کړی) بې له شکه چې (الله تعالی) کافران نه خوښوی.

وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن يُرْسِلَ ٱلرِّيَاحَ مُبَشِّرَٰتٍ وَلِيُذِيقَكُم مِّن رَّحْمَتِهِۦ وَلِتَجْرِيَ
ٱلْفُلْكُ بِأَمْرِهِۦ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٤٦﴾

او د الله تعالی( د قدرت او ربوبيت) له نښنو يوه دا ده چې( د باران) زيری ورکوونکی بادونه راليږی، ترڅو تاسو ته د خپل رحمت ثمره در وڅکی، او هم د هغه په امر( د دغو بادونو په وسيله) کښتی وچليږی او تاسو د الله تعالی فضل (د بحری سفرونو او تجارتی مالونو په وړلو راوړلو سره اقتصادی ګټه) ترلاسه (او په الهی نعمتونو)شکر وباسی.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَآءُوهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَٱنتَقَمْنَا مِنَ
ٱلَّذِينَ أَجْرَمُوا۟ ۖ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾

او( ای پیغمبره!) بیشکه چې ستا نه وړاندې مو هم پیغبران د هغوی خپلو خپلو قومونو ته له روښانه دلایلو سره استولی، او بیا مو له مجرمینو څخه انتقام اخستی( او له مؤمنانو سره مو مرسته کړې ځکه) له مؤمنانو سره مرسته زمونږ په عهده د هغوی ثابت حق دی.

ٱللَّهُ ٱلَّذِي يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابٗا فَيَبۡسُطُهُۥ فِي ٱلسَّمَآءِ كَيۡفَ يَشَآءُ
وَيَجۡعَلُهُۥ كِسَفٗا فَتَرَى ٱلۡوَدۡقَ يَخۡرُجُ مِنۡ خِلَٰلِهِۦۖ فَإِذَآ أَصَابَ بِهِۦ مَن
يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ إِذَا هُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ٤٨

الله تعالی هغه ذات دی چې بادونه رالالوزوی، او د هغو په وسیله وریځې هوا ته پورته کوی، بیا یې چې څنګه خوښه وی په آسمان کې یې خوروی او په برخو او ټوټو یې ویشی، نو( ای مخاطبه) باران ته به ګورې چې له وریځو راووری، او الله تعالی یې پخپلو بندګانو کې چاته چې یې اراده وشی رسوی او هغوی ورباندې خوښی او خوشحالی کوی( په همدې توګه به الله تعالی د اسلام مقدس دین په ټوله نړۍ کې خپور کړی).

وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلِ أَن يُنَزَّلَ عَلَيۡهِم مِّن قَبۡلِهِۦ لَمُبۡلِسِينَ ٤٩

او د باران له ورښت نه وړاندې دوی سخت نا امیده او مایوسه وو.

فَٱنظُرۡ إِلَىٰٓ ءَاثَٰرِ رَحۡمَتِ ٱللَّهِ كَيۡفَ يُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ
ذَٰلِكَ لَمُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٥٠

نو( ای انسانه!) د الله تعالی د رحمت آثارو ته په دقت وګوره چې څنګه وچه او مړه ځمکه راژوندۍ کوی، په همدې توګه( پخپل قدرت سره) مړی هم راژوندی کوی ځکه الله تعالی پخپلو ټولو چارو او اقداماتو پوره قدرت لرونکی او برلاسی ذات دی( او دا هم کولی شی چې د انسانانو د مړو زړونو وچې ځمکې هم د خپل الهی رحمت په باران سره خړوبې او د ایمان روح پکې راژوندۍ کړی).

وَلَئِنۡ أَرۡسَلۡنَا رِيحٗا فَرَأَوۡهُ مُصۡفَرّٗا لَّظَلُّواْ مِنۢ بَعۡدِهِۦ يَكۡفُرُونَ ٥١

(هو د باران له امله مړه او کلکه ځمکه، ژوندۍ او زرغونه شی او خلک پرې خوښ او خوشاله شی) خو که ناڅاپه وربانډې (مضره او سوزوونکی) سیلۍ ورواستوو، او دوی خپل زراعتې کښتونه زیر زبیښلی ووینی( نو د بې ایمانه او ضعیف الایمان کسانو نیتونه سمدلاسه په بله واوړی او د خپلو ګناهونو د جبران او توبې په ځای) کفران او ناشکرۍ ته مخه کړی.

فَإِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَلَا تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡاْ مُدۡبِرِينَ ٥٢

( دوی چې کفر یې په ایمان مقدم او محترم ګڼلی، کاملاً د مړو په شان دی) نو ته( خپل اسلامی دعوت) په مړو اورولی نشې او نه یې په هغو کڼو اورولی شې چې( په اعتراض او عناد سره) درنه مخ ګرځوی.

وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِ ٱلۡعُمۡيِ عَن ضَلَٰلَتِهِمۡۖ إِن تُسۡمِعُ إِلَّا مَن يُؤۡمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسۡلِمُونَ ﴿٥٣﴾

او زړه مړی ګمراهان هم د هدایت په لاره نشې برابرولې، یوازې هغه کسان ستا دعوت اوری او( د زړه په مینه ورته لبیک وایی) چې زمونږ په( قرآنی) آیتونو ایمان او باور لری او زمونږ احکامو او فرامینو ته یې( په مینه او ورین تندی) غاړه ایښې ده.

۞ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن ضَعۡفٖ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعۡدِ ضَعۡفٖ قُوَّةٗ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعۡدِ قُوَّةٖ ضَعۡفٗا وَشَيۡبَةٗۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡقَدِيرُ ﴿٥٤﴾

الله تعالی هغه ذات دی چې تاسو یې له کمزورۍ( کمزوری نطفې) څخه پیدا کړی، بیا یې د ماشومتوب له کمزورۍ نه وروسته د ځوانۍ قوت او پیاوړتیا درکړه، بیا یې د ځوانۍ له قوت او قدرت نه وروسته، ضعف او بوډاتوب ته ورسولۍ. هر څه چې( الله تعالی) وغواړی پیدا کوی یې، ځکه هغه پوه او قدرت لرونکی ذات دی( او د انسانی وجود دغه مختلف مراحل یې د قدرت یو بل ډیر ښه مثال دی).

وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُقۡسِمُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ مَا لَبِثُواْ غَيۡرَ سَاعَةٖۚ كَذَٰلِكَ كَانُواْ يُؤۡفَكُونَ ﴿٥٥﴾

او د قیامت د قیام په ورځ به مجرمین سوګندونه یادوی چې( په برزخ یا دنیا کې یې)ایله یو ساعت ژوند کړی.دوی( همداسې چې په قیامت کې دروغ وایی او له حقیقت نه منحرف دی په دنیا کې هم له حق نه باطل ته) کاږه وو.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ وَٱلۡإِيمَٰنَ لَقَدۡ لَبِثۡتُمۡ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡبَعۡثِۖ فَهَٰذَا يَوۡمُ ٱلۡبَعۡثِ وَلَٰكِنَّكُمۡ كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٥٦﴾

او پوهان او د ایمان په نور منور کسان به ورته ووایی چې تاسو د الله په کتاب( لوح محفوظ کې د قضا او قدر په حساب په دنیا او برزخ کې) د قیامت تر ورځې ژوند کړی، نو نن د قیامت ورځ ده، چې تاسو( د خپل جهل او عناد له مخې د دغې ورځې په وقوع او حقیقت) نه پوهیدی.

فَيَوۡمَئِذٖ لَّا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَعۡذِرَتُهُمۡ وَلَا هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُونَ ٥٧

نو په دغه ورځ به هغو کسانو ته( چې د کفر او شرک په غوره کولو سره یې پخپلو ځانونو) ظلم کړی، هیڅ ډول عذر او پلمې ګټه و نه لری، او نه به ورته وویل شی چې( د خپلو ظلمونو له امله) معذرت وغواړی.

وَلَقَدۡ ضَرَبۡنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٖۚ وَلَئِن جِئۡتَهُم بِـَٔايَةٖ لَّيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا مُبۡطِلُونَ ٥٨

او بیشکه چې مونږ په دې قرآن کې خلکو ته هر ډول مثالونه بیان کړل، او( ای پیغمبره) که ته دوی ته( د دوی د فرمایش سره سمه) معجزه هم راوړې، کافران به ووایی چې تاسو باطل پرستان یی( او معجزه مو هم باطله ده).

كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ٥٩

په همدې توګه الله تعالی د هغو کسانو په زړونو، د(بدمرغۍ) مهرونه وهی چې له حق پیژندنې او معرفت نه بې برخې دی.

فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ٦٠

نو( ای پیغبره!) د کافرانو (په اذیت، شرارت او بغاوت مه خفه کیږه، په پیغمبرانه) صبر او تحمل( اسلامی دعوت او تبلیغ ته ادامه ورکړه) بیشکه چې د الله تعالی وعده حقه ده، دغه(مفسد او بد عقیده کسان) نه خو تا بې صبری ته هڅولی شی او نه دې له خپل ټینګ عزم او دریځ نه په شا کولی شی.

« تمت سورة الروم بعون الله رب العالمین»

==========================================